# فهرست


| شمېره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | دپیل خبري | ۱ |
| ۲ | دتقلید حقیقت | ۵ |
| ۳ | یادونه | ۸ |
| ۴ | دتقلید دوه صورتونه | ۱۶ |
| ۵ | دتقلید ثبوت په قران سره | ۱۷ |
| ۶ | دتقلید دثبوت لپاره لومړی ایت | ۱۷ |
| ۷ | دتقلید دثبوت لپاره دوهم ایت | ۲۱ |
| ۸ | دتقلید دثبوت لپاره دریم ایت | ۲۵ |
| ۹ | دتقلید دثبوت لپاره ځلورم ایت | ۲۶ |
| ۱۰ | دتقلید ثبوت په حدیث سره | ۲۹ |
| ۱۱ | داصحابانو رضي الله عنهم په وخت کي ددوی تقلید کول | ۳۷ |
| ۱۲ | داصحابانو رضي الله عنهم په زمانه کي شخصي تقلید | ۵۰ |
| ۱۳ | داصحابانو رضي الله عنهم دتقلیدلومړی نظیر | ۵۰ |
| ۱۴ | داصحابانو رضي الله عنهم دتقلید دوهم نظیر | ۵۴ |
| ۱۵ | داصحابانو رضي الله عنهم دتقلیددریم نظیر | ۵۷ |
| ۱۶ | داصحابانو رضي الله عنهم دتقلید ځلورم نظیر | ۶۴ |
| ۱۷ | ځو بېلابېل مثالونه | ۶۶ |


www.hammadia.com

*Download From; Aghalibrary.com*

# فهرست


| شمېره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸ | شخصي تقلید ته اړتیا | ۷۰ |
| ۱۹ | دشخصي تقلید دلزوم یو څرګند مثال | ۸۵ |
| ۲۰ | دڅلور مذهبونو تخصیص | ۸۹ |
| ۲۱ | دتقلید بېلابیلي درجې | ۹٦ |
| ۲۲ | دعوامو خلکوتقلید | ۹۷ |
| ۲۳ | دجید او متبحر عالم تقلید | ۱۰۸ |
| ۲۴ | دتقلید دوهمه درجه | ۱۰۸ |
| ۲۵ | مجتهد في المذهب | ۱۲۴ |
| ۲٦ | دریمه درجه | ۱۲۴ |
| ۲۷ | دمجتهد مطلق تقلید | ۱۲٦ |
| ۲۸ | څلورمه درجه | ۱۲٦ |
| ۲۹ | پر تقلید باندي شکونه او نیوکي | ۱۳۱ |
| ۳۰ | په قرانکریم کي دپلرونو او نیکه ګانو تقلید | ۱۳۱ |
| ۳۱ | داحبارو او رهبانو تقلید | ۱۳۴ |
| ۳۲ | دحضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه حدیث | ۱۴۱ |
| ۳۳ | دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سپېڅلي وینا | ۱۴۴ |
| ۳۴ | دمجتهدینو امامانو ویناوي | ۱۴٦ |


www.hammadia.com

***Download From; Aghalibrary.com***

# فهرست



| صفحه | موضوع | شمېره |
|---|---|---|
| ۱۵۲ | عام سړی به څنګه مجتهد پېژني؟ | ۳۵ |
| ۱۵۵ | ایا تقلید کول عیب دئ؟ | ۳۶ |
| ۱۶۰ | شخصي تقلید او خواهش پرستي | ۳۷ |
| ۱۶۲ | تقلید او نوي پیدا سوي مسئلې | ۳۸ |
| ۱۶۴ | حنفي مذهب اوپه حدیث باندي عمل | ۳۹ |
| ۱۷۷ | امام ابوحنیفة رحمة الله علیه او علم حدیث | ۴۰ |
| ۱۸۳ | په تقلید کي جمود | ۴۱ |
| ۱۸۷ | وروستی وړاندیز | ۴۲ |



www.hammadia.com

*Download From; Aghalibrary.com*

واجب دي ، علامه سيوطيؒ په اکليل نومي کتاب کي ليکي: په پورتني آيت کي پردې خبره باندي هم دليل دئ ،چي عامو خلکو ته په فروعي مسئلو کي تقليد کول جايز دئ.
که پورتنی آيت کريمه دتقليد لپاره ددليل په توګه وويل سي نو ځينو خلکو ته دا نيوکه ور پرزړه کېږي ،چي کله دمکې مشرکينو دحضرت محمدﷺ درسالت څخه منکر سوه او دا يې ويل ،چي موږ ته ولي درسالت په توګه يوه ملايکه نه راځي؟ اللهﷻ دا آيت نازل کړ:
وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالاً نُّوحِىٓ إِلَيۡهِمۡ‌ۚ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾[1]

ژباړه : موږ ترتا وړاندي نور خلک هم درسولانو په ډول لېږلي وه ، که تاسو نه پوهېږئ نو دا اهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ.
په پورتني آيت کي ،چي(اهل ذکر) ياد سوي دي ،دځينو مفسرينو په آند دا اهل کتابو علماء ځيني مراد دي ، دځينو په آند هغه علماء ځيني مراد دي ،چي درسول اللهﷺ په زمانه کي يې اسلام راوړی وو ، دځينو په آند اهل قرآن ځيني مراد دي.
مطلب دا چي دټولو مفسرينو پردې خبره باندي اتفاق دئ ،چي دپورتني آيت مطلب دادئ ،چي مخکني ټول انبياء عليهم السلام انسانان وه ملايکي نه وې له همدې دپورتني آيت دسباق ، سوق او سياق څخه هيڅ دتقليد او اجتهاد خبره نه معلوميږي؟

[1]: سورة النحل الاية ٤٣

دپورتني سوال جواب دادئ : ،چي دآيت شريف څخه په دلالت النص باندي تقليد معلوميږي، او پر تقليد باندي دلالت کوي ، حاصل دا چي داهل الذکر څخه ،چي هرڅوک مراد وي خو دوی ته درجوع حکم هغه چاته سوی دئ ،چي په هغو کي ذاتي ناپوهي نغښتې وي ، داخبره هغه وخت منل کېدای سي ،چي کله دا اصل ومنل سي ،چي هر پوه دي عالم ته رجوع کوي او دغه اصل دپورتني آيت څخه معلوميږي ،بالاخره پورتنی آيت دتقليد لپاره استدلال کېدای سي ، بله خبره داده ،چي مخکي موږ ويلي وه ،چي ټول فقهاء او مفسرين لاندي قاعده بيانوي:

العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد.

ژباړه : اعتبار عمومي الفاظو ته دئ خاص هغه مورد ته اعتبار نه ورکول کېږي په کوم کي ،چي آيت نازل سوی وي.

که څه هم پورتنی آيت دمکې دمشريکانو په جواب کي نازل سوی دئ خو دآيت الفاظ عام دي نو ځکه دآيت څخه دشک پرته دا اصول ثابتيږي ،چي هغه خلک ،چي علم نه لري هغه دي علماوو ته رجوع وکړي او پوښتنه دي ځني وکړي ، همدا خبره دتقليد مفهوم دئ ځکه خطيب بغدادي رحمه الله فرمايي:

اما من يسوغ له التقليد فهو العامي الذي لايعرف طريق الاحكام الشرعية فيجوز له ان يقلد عالما ويعمل بقوله قال الله تعالي فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾ (1)

ژباړه : دا چي تقليد به چاته جايز وي (بايد وويل سي ،چي تقليد ) دهغه عام سړي لپاره جايز دئ ،چي شرعي احکام نه پېژني دا سي سړي ته جايز

1: الفقه والمتفقه للخطيب البغدادي رحمه الله ج : ٢ ص : ٦٧ ط : دارالافتاء سعودية رياض.

www.hammadia.com

دئ ،چي ديوه عالم تقليد وکړي او په خبره يې عمل وکړي ځکه الله جل جلاله فرمايي: که تاسو نه پوهېږئ نو د اهل ذکر څخه پوښتنه وکړئ.
تر دې خبرې وروسته علامه خطيب بغدادي رحمه الله په خپل سند سره د حضرت عمرو بن قيس رحمه الله قول رانقل کړی دئ ،چي د اهل ذکر څخه مراد علماء دي.

# دتقليد ثبوت په حديث سره

لکه دقرآن دآياتونو څخه ،چي دتقليد ثبوت وسو په همدې ډول دډېرو احاديثو څخه هم دتقليد جواز ثابتيږي ،چي ځيني احاديث يې په لاندي ډول دي:

١: عن حذيفة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اني لاادري مابقائي فيكم فاقتدوا باللذين من بعدي ابي بكر وعمر رضي الله عنهما.([1])

ژباړه :دحذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ ، دی فرمايي ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه نه يم خبر ،چي زه به په تاسو کي څومره عمر يم نو تاسو زما وروسته په ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه پسي اقتداء وکړئ.
په پورتني حديث کي يوه خبره ديادولو وړ ده هغه داچي په حديث کي داقتداء لفظ استعمال سوی دئ دغه لفظ دې ته ويل کېږي ،چي ديو چا په ديني چارو کي پيروي وسي نه داچي په انتظامي چارو کي دچا پيروي وسي ځکه دعربي لغت مشهور عالم ابن منظور ليکي: اَلْقُدْوَةُ وَالْقِدْوَةَ ما تسننت به.

[1]: رواه الترمذي وابن ماجة واحمد ، مرقاة المفاتيح ج : ۵ ص: ۵۴۹ باب مناقب ابي بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه.

www.hammadia.com

ژباړه : ابو وائل رحمه الله فرمايي: زه يوه ورځ دشيبة بن عثمان رحمه الله سره ناست وم ، شيبة بن عثمان رضي الله عنه راته وويل: يوه ورځ ستا پر ځای باندي حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ناست و او وې ويل : زه داسي اراده لرم ،چي په کعبه کي ،چي کوم سره او سپين زر دي هغه ټوله دخلکو په منځ کي وويشم، شيبه وايي : ما ورته وويل : (اې عمره رضي الله عنه!) تر تا وړاندي دوه صاحبان يعني حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر رضي الله عنه تېر سوي دي هغو خو داسي نه دي کړي لکه ته ،چي يې کوې؟ عمر رضي الله عنه وويل: دوی دواړه داسي خلک وه ،چي اقتدا پسي وسي.

همدا ډول په مسند احمد کي دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ ،چي يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په يوه مجلس کي وفرمايل: اوس به ستاسو په مجلس کي يو جنتي سړی را داخل سي، دلږ وخت تېرېدو وروسته يو انصاري صحابي مجلس ته راغلی ، په دوهمه ورځ هم دغسي پېښه وسوه او په دريمه ورځ هم وسوه. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه يوه شپه دغه انصاري صحابي مېلمه کړ، دعبدالله بن عمر رضي الله عنه داسي ګومان و ،چي دغه صحابي به ډېر عبادت کوي (چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په جنتي يادکړ.)خو هغسي نه وه بلکي هغه انصاري صحابي څو اذکار وويل بيا تر سهاره پوري بيده و ، عبدالله بن عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل:زه ستالوري ته ځکه راغلم ،چي تا وازمويم ،چي ته څومره عبادت کوې؟ ترڅو زه په تا پسي اقتدا وکړم هغه صحابي ورته وويل :زه خو خاص

www.hammadia.com

عبادت نه کوم مګر يو کار کوم هغه داچي دمسلمان سره په زړه کي حسداو ضد نه ساتم.[1]

کوم ځايونه ،چي بيان سوه په ټولو ځايونو کي اقتدا په ديني کارونو کي داطاعت او پيروی په معنا راغلې ده په ځانګړي ډول په لومړنيو دوو حديثونو کي په خصوصي ډول داقتداء لفظ دابوبکر رضي الله عنه داطاعت لپاره استعمال سوی دئ. همدا لامل دئ ،چي په پورتني حديث کي ،چي دعمر او ابوبکر رضي الله عنهما داقتدا خبره سوې ده موخه ځيني داده ،چي تاسو ددوی دوو په ديني چارو کي پيروي او اطاعت وکړئ ، همدې کار ته تقليد ويل کيږي.

دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه په بخاري او مسلم کي روايت سوی دئ ،چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

۲: " إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالما اتخذ الناس رءوسا جهالا فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا وأضلوا "[2]

ژباړه : باور وکړئ الله جل جلاله دخلکو څخه علم داسي نه پورته کوي ،چي دخلکو دزړونو څخه علم وباسي بلکي په داسي ډول يې پورته کوي ،چي علماء مړه سي ، هيڅ عالم به پاته نه سي خلک به خپل رئيسان جاهلان وټاکي نو خلک به پوښتني ځني کوي هغوی به بېله علمه فتواوي ورکوي ، خپله به هم ځانونه ګمراه کوي او نور به هم ګمراه کوي.

---

[1]: اخرجه احمد من طريق عبدالرزاق ثنا معمر عن الزهري ،اخبر انس رضي الله عنه وهو اسناد صحيح، مسند احمد ، ج : ۳ ص : ۱٦٦، مسندات انس رضي الله عنه

[2]: مشكوة المصابيح ج : ۱ ص : ۳۳ ، كتاب العلم ،لومړی فصل.

پورته حديث ته كه وكتل سي په ښكاره معلوميږي ،چي دفتوا كار علماوو ته سپارل سوى دئ يعني داچي عام خلک به پوښتني ځني كوي او علماء به جوابونه وركوي.همدا دتقليد حقيقت دئ.
په پورتني حديث كي يوه بله مهمه خبره هم دپام وړ ده هغه داچي رسول الله ﷺ ديوې داسي زمانې دراتګ خبر وركړى دئ ،چي په هغه زمانه كي به علماء له منځه ځي او جاهلان خلک به فتواوي وركوي ، په داسي زمانه كي علماء له منځه تللي وي او جاهلان فتواوي وركوي په داسي زمانه كي به نو خلكو ته پرته له دې ،چي دپخوانيو علماوو تقليد وكړي بله به كومه لاره ورته پاته وي؟ ځكه علماء به له منځه تللي وي پاته خلک به جاهلان وي او نه به بل داسي څوک وي،چي مستقيما دقرآن او حديث څخه استنباط وكړي په داسي حالت كي به پرته له دې ،چي دپخوانيو علماوو ،چي وفات سوي وي تقليد وكړل سي بله لاره به نه وي. ددې حديث څخه دا معلومه سوه ،چي كه په دنيا كي مجتهدين علماء موجود وه نو ددوى څخه دي دمسائلو پوښتني وكړل سي او بيا دي يې تقليد وكړل سي او كه په دنيا كي داسي عالم پاته نه سو نو بيا دي دهغو علماوو تقليد وكړل سي ،چي ددنيا څخه تللي او رحلت يې كړى وي او دجاهلانو دفتواوو تقليد دي نه كېږي.
په بل حديث كي راغلي دي:
٣: وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " من أفتي بغير علم كان إثمه على من أفتاه....... " . رواه أبو داود[1]

[1]: مشكوة المصابيح ، ج : ١ ص : ٣٧ ، كتاب العلم ، فصل الثاني

واذا كان المفتي علي هذه الصفة فعلي العامي تقليده وان كان المفتي اخطا في ذالک ، ولامعتبر بغيره هكذا روي الحسن عن ابي حنيفةرحمه الله وابن رستمرحمه الله عن محمدرحمه الله وبشير بن الوليدرحمه الله عن ابي يوسفرحمه الله.([1])

ژباړه : كه ،چيري په مفتي كي دا صفت موجود وي يعني مجتهد وي نو په عامي سړي باندي يې تقليد لازم دئ ، كه څه هم مفتي خطاوتلى وي، همدا خبره امام حسنرحمه الله دامام ابو حنيفةرحمه الله څخه ، ابن رستم رحمه الله دامام محمد رحمه الله څخه او بشير بن وليد رحمه الله دابويوسفرحمه الله څخه رانقل كړي ده.

۲: دامام ابويوسفرحمه الله داخبره مخكي تېره سوې ده ،چي دی فرمايي:

علي العامي الاقتداء بالفقهاء لعدم الاهتداء في حقه الي معرفة الاحاديث.([2])

۳ : دامام احمد بن حنبل اړونده علامه ابن تيميةرحمه الله داسي نقل كړی دئ:

ويامر العامي بان يستفتي اسحقرحمه الله واباعبيدرحمه الله واباثوررحمه الله وابامصعبرحمه الله وينهي العلماء من اصحابه كابي داودرحمه الله وعثمان بن سعيدرحمه الله وابراهيم الحربيرحمه الله و ابي بكر الاثرمرحمه الله وابي زرعةرحمه الله وابي حاتم الجستانيرحمه الله ومسلمرحمه الله وغيره ان يقلدو احدا من العلماء ويقول عليكم بالاصل بالكتاب والسنة(3)

[1]: كفاية شرح هداية ، كتاب الصوم ، ماخوذ من خير التنقيد ، مؤلفه حضر ت مولانا خيرمحمد صاحبرحمه الله

[2]: هداية ، ج : ۱ ، ص : ۲۲٦ ، باب مايوجب القضاء والكفارة.

[3]: فتاوی ابن تيمية ، ج : ۲ ، ص : ۲۴۰.

www.haqmadia.com

